# تابش پوهنتون

## محصلانو چارو معاونیت

## مشوره ورکونې او کارموندنې مدیریت

# د مهارتونو د تشخیص، ودې او انکشاف لپاره د گمارونکو او استخدام شویو فارغانو د نظریاتو ترلاسه کولو میکانیزم

کال:۱۴۰۴

بسم الله الرحمن الرحيم

فهرست

سریزه:---------------------------------------------------------------------------------------------------------------------------۲
موخې:--------------------------------------------------------------------------------------------------------------------------۲
د فارغانو لیستون:------------------------------------------------------------------------------------------------------------۳
د کار ګمارونکو څخه سروې ترسره کول:Employer Feedback:------------------------- ------------------------------۳
د معلوماتو تحلیل Interpretation:-----------------------------------------------------------------------------------۴
راپور جوړونه(Reporting) :-------------------------------------------------------------------------------------------۴
د نیمګړتیاوو د رفع کولو پروګرامونه:--------------------------------------------------------------------------------۵
نیمګړتیا لرونکي فارغان ځانګړو سیمنارونو ته رابلل:-------------------------------------------------------------۵
دوامداره ارزونه او فیډبک:----------------------------------------------------------------------------------------------۵
تائید او تصویب:--------------------------------------------------------------------------------------------------------۵

**سریزه**

خصـــوصي پوهنتونونه هغه وخت د حقیقي پرمختګ او ودې جوګه کېږي، چې د تضـــمین کیفیت ځانګړي معیارونه په جدي ډول پلي کړي. له دغو معیارونو څخه یو تر ټولو مهم اړخ د فارغانو وړتیا او مهارتونه دي چې د تضمین کیفیت د 8.3.5 معیار پر بنسـت. فارغان باید د ټولنې او کاري بازار د اړتیاوو پر بنسـټ په لازمه علمي پوهه، عملي تجربو او مسـلکي مهارتونو سـمبال وي، څو وتوانېږي خپلې دندې او مسلکي مسؤلیتونه په اغېزمن ډول ترسره کړي.

د فارغانو د پوهې، مهارتونو او عملي تجربو کچه نه یوازې د پوهنتون د نصـــاب، درسي پروګرامونو او روزنیزو تګلارو د کیفیت څرګندونه کوي، بلکې د پوهنتون د نوم، اعتبار او ټولنیز باور د لوړولو لپاره هم یوه بنســـټیزه وســـیله ګڼل کېږي. په همدې اساس، د فارغانو د وضعیت ارزونه د هر پوهنتون د دوامدار پرمختګ لپاره خورا مهم ارزښت لري.

د فارغانو تجربې، ستونزې او نظریات د پوهنتون د کیفیت د تضمین او د نصاب د اصلاح لپاره ډېر ارزښت لري. ځکه د هغوی عملي ژوند په څرګنده توګه ښیي چې د پوهنتون درسي پروګرامونه او تدریسي تګلارې تر کومه بریده د کاري بازار له غوښتنو او نړیوالو معیارونو سره برابري لري. د فارغانو له نظریاتو او فیډبک څخه ګټه اخیسـتل پوهنتون ته دا زمینه برابروي چې خپلې نیمګړتیاوې وپېژني، قوتونه لا پیاوړي کړي او د داســـې پروګرامونو طرحه وکړي چې راتلونکو محصـــلینو ته په عملي ژوند او مسلکي ساحه کې اسانتیاوې برابرې کړي.

په همدې اساس تابش پوهنتون د خپلو فارغانو د وضعیت څېړنې، د هغوی د تجربو د راټولولو او د نظریاتو د ترلاسه کولو لپاره دغه میکانیزم ترتیب کړی دی. د دې میکانیزم موخه دا ده چې د فارغانو د نظره پوهنتون په درسي نصـــاب، روزنیزو پروګرامونو او مسـلکي روزنه کې شـته قوتونه او نیمګړتیاوې په سـمه توګه وپېژندل شي، تر څو د کیفیت د ښـه والي په راتلونکو پروګرامونو کې په ګټه واچول شي. دغه سروې به د پوهنتون مشرتابه ته دا فرصت ورکړي چې د فارغانو او کاري بازار د غوښتنو تر منځ د یووالي په رامنځته کولو سره د زده کړو کیفیت لوړ کړي، د راتلونکو محصلینو لپاره لازمې اسانتیاوې برابرې کړي او په پایله کې د پوهنتون ملي او نړیوال اعتبار نور هم زیات کړي.

## موخې:

**د دې میکانیزم اساسي موخې په لاندې ډول دي:**

1. د فارغانو اوسـنی وضـعیت معلومول، د تابش پوهنتون د فارغانو دندې، مسـلکي پرمختګ، او د هغوی د بریالیتوبونو په اړه دقیق معلومات راټولول.
2. د نصاب او روزنیزو پروګرامونو ارزونه، د پوهنتون د درسي مضامینو، کورسونو او تدریسي پروګرامونو ګټورتیا د فارغانو له نظره ارزول، تر څو پوه شو چې کومې برخې اغېزناکې وې او کومې برخې اصلاح ته اړتیا لري.
3. د نیمګړتیاوو او تشو پیژندنه، هغه مهارتونه، مضامین یا عملي تجربې مشخصول چې فارغان یې په کاري بازار کې د نشتون له امله له ستونزو سره مخ کړي دي.
4. د کاري بازار د اړتیاوو سره د مطابقت رامنځته کول، د فارغانو او کارفرماوو د نظریاتو پر بنســـټ د پوهنتون روزنیز پروګرامونه د بازار د اړتیاوو سره سم عیارول.
5. د فارغانو او پوهنتون اړیکې پیاوړتیا، د فارغانو لپاره داسې یو میکانیزم رامنځته کول چې د پوهنتون سره په دوامدار ډول وصل پاتې شي او خپل نظرونه او تجربې په منظم ډول شریک کړي.
6. د راتلونکو محصـــلینو لپاره د مهارتونو لوړول،د فارغانو له تجربو څخه په ګټې اخیســـتنې سره د داســـې ورکشـــاپونو، کورسونو او عملي پروګرامونو طرح کول چې د محصلینو مسلکي وړتیاوې لوړ کړي.
7. د پوهنتون د کیفیت د ښـه والي پروګرامونه بډای کول، د فارغانو د فیډبک پر اسـاس د کیفیت د لوړولو په برخه کې نوې پالیســـۍ او ســـتراتیژۍ رامنځته کول، تر څو د پوهنتون د ســـیالۍ وړتیا هم په ملي او هم په نړیواله کچه لوړه شي.

**۱: د فارغانو د لېستونو جوړول:**

مخکې له دې چې د فارغانو د ګومارونکو (استخداموونکو ادارو او شرکتونو) څخه د سروې او معلوماتو راټولولو بهير پيل شي، اړينه ده چې لومړی پړاو کې د ټولو هغو محصلانو منظم او دقيق لېستونه ترتيب شي چې له بېلابېلو پوهنځيو څخه فارغ شوي دي. په دغو لېستونو کې بايد د هر فارغ اساسي معلومات لکه نوم، د پلار نوم، د فارغېدو کال، د اړيکو شمېرې، د زده کړې ساحه او تخصص په واضح ډول ثبت شي.

همدارنګه بايد وڅېړل شي چې ياد فارغان اوس مهال په کومو ادارو، شرکتونو او يا سازمانونو کې په دندو بوخت دي، د هغوی د دندې نوعيت څه دی (اداري، تخنيکي، تخصصي، تدريسي او نور)، او څومره کاري تجربې لري. د دغو لېستونو منظم کول به نه يوازې د راتلونکې سروې د ترسره کولو لپاره يو اساسي بنسټ وي، بلکې د پوهنتون د کيفيت د ښه والي، د نصاب د ارزونې او د محصلينو د مسلکي ودې لپاره يو ارزښتناک معلوماتي بانک هم جوړوي.

**۲ :د کار ګمارونکو څخه سروې ترسره کول:Employer Feedback**

د مهارتونو د تشخيص او د نصاب د اغېزمنتيا د ارزونې لپاره يوازې د فارغانو نظرونه بسنه نه کوي، بلکې د هغو ادارو، شرکتونو او سازمانونو ليدلوری هم خورا مهم دی چې فارغان يې د کار لپاره جذب کړي دي. له همدې امله، د کار ګمارونکو څخه د سروې ترسره کول د پوهنتون او د فارغانو د مهارتونو د لوړولو او ښه والي يوه مهمه مرحله ګڼل کېږي.چې دا سروې به په هارډ شکل د فورم په اساس يا د Google forms له مخې ترسره کيږي.

په دې سروې کې به د کار ګمارونکو څخه د لاندې ټکو په اړه د ځانګړې فورم په اساس پوښتنېترسره کيږي:

1. د فارغانو د مسلکي مهارتونو او پوهې کچه.
2. د فارغانو د عملي تجربې او کاري وړتيا ارزونه.
3. د فارغانو د مسلکي اخلاقو، همکارۍ، د ټيم په چوکاټ کې د کار کولو وړتيا او مسؤليت منښې اندازه.
4. د پوهنتون د نصاب او پروګرامونو په اړه د کار ګمارونکو نظرونه.
5. د پوهنتون لپاره وړانديزونه د نصاب د اصلاح او د عملي مهارتونو د زياتوالي په برخه کې.

د سروې پايلې به د پوهنتون لپاره يو روښانه او واقعي انځور وړاندې کړي، چې څومره يې فارغان د کاري بازار له اړتياوو او غوښتنو سره سم روزل شوي دي، دا پايلې به د پوهنتون د فارغانو د مهارتونو لوړولو په بهير کې مرسته وکړي، چې د زده کړو پروګرامونه د عملي اړتياوو پر بنسټ تنظيم او اصلاح کړي.

دغه معلومات به نه يوازې د نصاب د اصلاح او نوي کېدو لپاره بنسټيز ارزښت ولري، بلکې د فارغانو د مهارتونو د لوړولو په موخه د مسلکي ورکشاپونو، د نوو پروګرامونو د رامنځته کولو، د تدريسي تګلارو د پياوړتيا او په ټوله کې د کيفيت د ښه والي لپاره د عملي لارښود په توګه وکارول شي. په همدې توګه، پوهنتون به وتوانېږي د بازار اړتياوو ته ځواب ويونکی، سيال او د اعتبار لرونکي فارغان او وړاندې کړي.

۳: د معلوماتو تحليل Interpretation

د ټولو ځوابونو پر بنسټ يو هراړخيز او تحليلي راپور جوړېږي، چې پکې د فارغانو او ګمارونکو نظريات په منظم ډول راټولېږي، طبقه‌بندي کېږي او تحليل کېږي. راپور د هرې پوښتنې ځوابونه د شمېر، سلنې او ګرافونو په بڼه وړاندې کوي، څو لوستونکي ته د وضعيت په اړه روښانه انځور وړاندې کړي.

په راپور کې په ځانګړي ډول هغه برخې په ګوته کېږي چې د فارغانو په مهارتونو کې نيمګړتياوې موجودې دي، دغه نيمګړتياوې په لاندې ټکو کې څرګندېږي:

- د IT پوهه او ټکنالوژيکي مهارتونه :د کمپيوټر بنسټيز مهارتونه، د نرم‌افزارونو کارونه او د ډيجيټل وسايلو ګټه اخيستنه.
- د ژبې کچه :د فارغانو د لوستلو، ليکلو او خبرې کولو وړتيا، او د مسلکي اصطلاحاتو په کارولو کې ستونزې.

- ➢ د مدیریت او رهبرۍ مهارتونه :د ټیم په چوکاټ کې د کار کولو وړتیا، د ســتونزو د حل کولو مهارتونه، وخت مدیریت او د ارتباط مؤثره تګلارې.
- ➢ د عملي کار تجربه :د نظري زده کړو تر څنګ د عملي مهارتونو کموالی، د انټرنشیپ، لابراتوارونو او د ساحوي تجربو نشتوالی.

د دې نیمګړتیاوو په یادولو سره پوهنتون د نصــاب د اصــلاح، د مهارتونو د لوړولو لپاره د روزنیزو پروګرامونو جوړولو او د نوو پروژو د رامنځته کولو لپاره مشخص اقدامات ټاکي، په دې توګه پوهنتون به وتوانېږي خپلو راتلونکو فارغانو ته داسې مهارتونه ورز ده کړي ، چې د کاري بازار د اړتیاوو او معیارونو سره په بشپړ ډول مناسب وي.

**۴ :راپور جوړونه(Reporting)**

کله چې سروې ترسره شي او پایلې تحلیل شي، راپور جوړېږي او اړونده برخو سره د اجرااتو لپاره شریکېږي. راپور کې به د سروې ټولې پایلې په منظم او واضح ډول وړاندې شي، د مهارتونو نیمګړتیاوې، ځواکمنې برخې او د پوهنتون د نصاب د اغېزمنتیا وضعیت به څرګند کړي.
راپور به د پوهنتون مشرتابه، پوهنځیو او اړونده ادارو سره د معلوماتو شریکولو وروسته لازمې کړنې ترسره شي، څو د نصاب اصلاح، د مهارتونو لوړولو ورکشاپونه، د نوو پروګرامونو رامنځته کول او د کیفیت د ښه والي لپاره عملي ګامونه پورته شي

1. **سرلیک او د سروې پېژندنه:**(Title & Introduction)
   - د سروې نوم، هدف، د سروې کچه او د ګډونوالو شمېر څرګندېږي.
2. **د معلوماتو راټولول او تحلیل:**(Data Collection & Analysis)
   - د سروې میتود، د پوښتنو ډول، د ګډونوالو فیصدي او شمېر، جدولونه او ګرافونه وړاندې کېږي.
3. **اصلي پایلې:**(Findings / Results)
   - د مهارتونو، پوهې او عملي تجربو وضعیت ښودل کېږي.
   - نیمګړتیاوې او ځواکمنې برخې مشخصې کېږي.
4. **تحلیل او بحث:**(Interpretation / Discussion)
   - پایلې تشریح کېږي، د کاري بازار اړتیاوې ارزول کېږي او د نصاب مطابقت ارزول کېږي.
5. **سپارښتنې:**(Recommendations)
   - د نصاب اصلاح، ورکشاپونه، د مهارتونو لوړول او نوې روزنیزې پروګرامونه وړاندیز کېږي.
6. **پای:**(Conclusion)
   - د سروې عمومي ارزښت څرګندېږي او راتلونکې ګامونه ټاکل کېږي.

## ۵ .د نیمګړتیاوو د رفع کولو پروګرامونه

د راپور پر اساس، پوهنتون لاندې پروګرامونه تطبیقوي څو د فارغانو مهارتونه لوړ کړي او نیمګړتیاوې رفع کړي:

- **ورکشاپونه او سیمینارونه :**د نرم مهارتونو په برخه کې لکه د اړیکو(Communication) ، ټیم ورک (Teamwork) او رهبري (Leadership) مهارتونو روزنه.
- **لنډمهاله روزنیز کورسونه :**د انګلیسي ژبې، کمپیوټر او مسلکي سافټویرونو په برخه کې کورسونه وړاندې کېږي.
- **انټرنشپ پروګرامونه :**د پوهنتون د پای نیونکو محصلینو لپاره په بازار کې عملي تجربه ترلاسه کولو فرصتونه برابروي.
- **Guest Lectures**د هغو فارغانو له لوري چې په ښه بستونو کې بوخت دي، تدریسي او عملي تجربې وړاندې کېږي.

دغه پروګرامونه د فارغانو مهارتونه پیاوړي کوي، د کاري بازار اړتیاوو سره یې برابروي او د پوهنتون د کیفیت لوړولو او د نوم د اعتبار د ساتنې لپاره عملي ګامونه وړاندې کوي.

٦. نیمګړتیا لرونکي فارغان ځانګړو سیمنارونو ته رابلل.

هغه فارغان چې د سروې پر اساس ارزول شوي او نیمګړتیاوې لري، د پوهنتون د رسمي مکتوبونو له لارې د روزنیزو پروګرامونو لپاره رابلل کیږي. دا پروګرامونه د هغوی د مهارتونو د لوړولو، عملي وړتیاوو د پیاوړتیا او د کاري بازار د اړتیاوو سره د پوره کولو لپاره جوړیږي.

**۷ .دوامداره ارزونه او فیډبک**

- دا پروسه کلنۍ ده او هر کال د فارغانو سروې ترسره کېږي څو پوهنتون د فارغانو د کاري وضعیت، مهارتونو او د نصاب د اغېزمنتیا په اړه تازه معلومات ترلاسه شي.
- د مشوره ورکوونې او کارموندنې مدیریت راپورونه ارزوي، پایلې یې تحلیلوي او د نصاب په ښه کولو، د ورکشاپونو پلان کولو او د مهارتونو د لوړولو پروګرامونو په تطبیق کې یې عملي کاروي.
- په دې توګه، پوهنتون د خپلو فارغانو اړتیاوې او د بازار غوښتنې په دوامداره توګه تعقیبوي او د نصاب او روزنیز پروګرامونه پلان کوي.

**تائید او تصویب:**

د مهارتونو د تشخیص، ودې او انکشاف لپاره د ګمارونکو او استخدام شویو فارغانو د نظریاتو ترلاسه کولو میکانیزم د محصلانو چارو معاونیت په ۱۹/٦/۱۴۰۴ نېټه مجلس کې د هر اړخیز بحث وروسته په( ٦) پروتوکول کې ثبت دی.

د محصلانو چارو معاونیت

د مهارتونو د تشخیص، ودې او انکشاف لپاره د ګمارونکو او استخدام شویو فارغانو د نظریاتو ترلاسه کولو میکانیزم د د علمي شورا په (۳۱/٦/۱۴۰۴) نېټه مجلس کې د هر اړخیز بحث وروسته په(٦ ) پروتوکول کې ثبت دی

د علمي شورا منشي	د علمي شورا
مشر